# Planeter / سیارې



*Figure 1 Planetene i solsyetemet. Fra AdobeStock_ dottedyeti*

- لمر او د هغه ۹ سیارې چې د هغه په شاوخوا ګرځي، شمسي منظومه جوړوي .
- ددې منظومې مرکز لمر دی• .
- د شمسي نظام ټولې سیارې خپله رڼا او تودوخه له لمر څخه ترالسه کوي.
- هره یوه سیاره د لمر په شاوخوا په یو ځانګړی تګلوري کې خوځیږي چې دې تګلورې ته د سیارې مدار وایي .
- د لمر په شاوخوا کې د سیارو خوځیدنه د انتقالي حرکت په نامه یادیږي .
- هغه موده چې یوه سیاره یې د لمر په شاوخوا کې سرته رسوي د کال په نامه یادیږي.
- د شمسي نظام خورا لویه سیاره مشتري دی .
- د شمسي نظام خورا کوچنۍ سیاره پلوتو دی.
- له لمر نه خورا لیری پلوتو او خورا نږدې عطارد دي.

## Solsystemet vårt / زمونږ شمسي نظام

د لمر شاوخوا کې نور جسمونه، لکه ځمکه هم شته چې د هغه شاوخوا ځرخيږي او يو نظام يې را منځته کړي دی. ددې نظام نوم شمسي نظام دی.

## Universet/کهکشان

- د شپې د اسمان په يوه برخه کې د نوراني ګرد او دوړو په شان ليدل کيږي چې د ستورو يوه لويه مجموعه ده چې د کهکشان په نامه ياديږي.



*Figure 2 Et bilde som illustrerer melkeveien i Universet- AdobeStock_beoyou*

## Melkeveien / شيري خط د لاري يا دلدل د لاري

- هغه کهکشان چې مونږ يې په شپه کې وينو د ( شيري خط د لاري يا دلدل د لاري) کهکشان نوميږي .
- زمونږ شمسی نظام هم په دغه کهکشان کې دی.

## Månen /سپوږمی



*Figure 3 Faser av månen. AdobeStock_elen31*

- سپوږمي یوه کوچنۍ کره ده .
- سپوږمۍ وضعي او لیږدونکي حرکت لري یعني د ځمکي په چاپیر ګرځي.
- د سپوږمۍ او ځمکي حرکت په خپل شاوخوا او هم د لمر په چاپیر ددې سبب کیږي چې د سپوږمي ډول ډول شکلونه ولیدل شي .
- له یوه هلال څخه تر بل او له یوه بدر څخه تر بله بدره پوری ۵۳/۲۹ ورځې دي چې دغې مودې ته یوه قمري میاشت وایي.

## Solsystemet /لمریز نظام




*Figure 4Solsystemet vårt. AdobeStock_ Bernd Libbach*

- لمریز نظام د شمسي منظومې ټولې سیارې او نورو اجرام دي چې نهه اصلي سیارې لري : عطارد، زهره، ځمکه، مریخ، مشتري، زحل، اورانوس، نپتون او پلوتو یي کوچني اسماني اجرام دي.

## Merkur /عطارد



*Figure5 Merkur. AdobeStock_Bernd Libbach*

- لمرته نږدې سیاره عطارد دی. د هغه د لیدلو ښه وخت سهار وختي او مازدیگر مهال وي .
- عطارد لمر ته ډېر نږدې دی او تودوخه یې د سانتي گراد ۴۲۷ درجو پورې رسیږي .
- د عطارد د تودوخه د ورځې له خوا په منځنۍ توگه د سانتي گراد ۱۹۰ څخه تر ۴۵۰ درجو پورې او د شپې له خوا منفي ۱۸۰ درجې د سانتي گراد سړه وي.
- عطارد جامد دی او مخ یې لکه سپوږمۍ په شان د ژورو کندو لرونکی دي.

## Jorda/ ځمکه



*Figure 6. Jorda_AdobeStock_Tryfonov*

- ځمکه د شمسي نظام یوه سیاره ده چي له درېو اساسي برخو څخه جوړه ده، جامد برخه، مایع برخه او هوا .
- ځمکه یوازینۍ سیاره ده چې ژوند کول کې شونی دی. پر ځمکې د ژوند کولو اصلي سرچینه لمر دی.
- ځمکه له لمر څخه د واټن له مخې درېیمه سیاره ده چې دا واټن ۶،۱۴۹ ملیون کیلو متره دی.
- د ځمکې یوه ورځ ۲۴ ساعته او کال یې هم ۳۶۵ ورځې دی .
- په اصل کې د ځمکې د محوري حرکت سرعت دی. له همدې محوري حرکت څخه شپه او ورځ جوړېږي او له شپو او ورځو څخه بیا اوونۍ، میاشت او کال جوړېږي .
- د ځمکې د ننه برخه ډېر توده ده،خو د هغې بهرني مخ چې مونږ ورباندې ژوند کوو برابره ترده ده، د ځمکې نور طبقات دادي:سیال،سیما،منتل او د ځمکې د ننه هسته.

## Mars/مریخ

- مریخ د ځمکې به پرتله سوړ او سور رنګ لري او وروسته تر ځمکه بله کوچنۍ سیاره ده.
- د مریخ تودوخې منځنۍ اندازه يي د سانتي ګراد منفي ۵۵ درجو ته رسيږي .
- په دغه سیاره کې اور غورزونکې غرونه، دښتې او پر مخ اوبه هم شته.



*Figure 7. Planeten Mars_AdobeStock_ontronix.*

## Jupiter / مشتري



*Figure 8. Jupiter foran Melkeveien.AdobeStock_dottedyeti*

- مشتري د شمسي منظومې دير غټ او ځلیدونکی سیارې دی .
- مشترى د خمكې به پرتله يوولس ځله غټ دی .

- د مشترى مخ د اورينو ويلې شويو ګازونو(هايدروجن او هليوم ) څخه جوړ دی .
- مشتري يو شمير کمرنګه کړيو يو کمربند لري چي پر شاوخوايې د سوځيدو په حالت کې را چاپير دی .
- د مشتري مخ يخني يې د سانتي ګراد منفي ۱۵۰ درجې او د منځ تودوخه يې ۲۰۰۰۰ درجې ده.

## زحل/ Saturn



*Figure 9 . Et bilde av planeten Saturn_AdobeStock_SciePro.*

- زحل په لمريز نظام کی دوهم لويه سياره ده .
- د زحل سطح د ګازونو څخه تشکيل شوی ده .
- زحل د لمريز نظام يو ښکلې سيارې دی او زحل يوه کړۍ لري.
- دغه لويې کړۍ له زرګونو کوچنيو نورو کړيو څخه جوړې دي .
- ددغه سيارې د مخ يخني د سانتی ګراد منفي ۱۸۰ درجې ده.

## اورانوس/ Uranus

- اورانوس دلمريز دريمه لويه سياره ده .
- اورانوس دهايدروجن، هيليوم او ميتان له ګازونو څخه جوړه شوې دی.

- د اورانوس رنګ شین ښکاريږي چې لامل يې هايدروجن او ميتان ګاز دی.
- د اورانوس د مخ يخني منفي ۲۱۰ درجې ده.

## نپتون / Neptun

- نپتون د لمريز نظام وروستۍ ګازلرونکې سياره ده.
- د نبتون اتمسفير يوه اندازه ګاز لري.
- ددغه سيارې مخ شين رنګ لري.

## پلوتو / Pluto

پلوتو عجيبه سياره ده چې اندازه يې کوچنۍ ده قطر يې د ځمکې له قطر څخه پنځه ځله کوچنۍ دی او له ځمکې څخه ډير لرې او کوچني دی خو سره له دې هم ستورو پيژندونکو هغه په 1930 وپيژندل.




*Figure 10 . Et bilde av solsystemet vårt med navn på de ulike planetene. Adobe Stock_YummyBuum*